# د پښتو د بشپړتابه مراتب

زموږ ژبه اوس د نوي ژوندانه پـه ډګـر کښـي پـل ږدي، او پښتانـه غواړي چي خپله ژبه پر نوی اساس او علمـي ډول وروزی، او ددې وړ ئـې کـي، چـي د وطـن آينـده علمـي او رسـمي چـاري پـه دغـه ژبـه وکړای سي.

ژبي خو لومړی پلا په دغـه شـکل چـي اوس سـته مـنځ تـه نـه دي راغلي، بلکي په ډيرو پيړيو کښي پشپړي سويدي، په هره پيړۍ کښي د هغې زماني خلکو د خپلو معلوماتو او حياتي اړتياوو، اوخپل عقلـي او اجتماعي جوړښت سره سم په ژبه کښي مواد او کلمات زياتي کړيـدي، او دا د تکامل سير په ژبو کښي اوس هم جاري دی. هر ملت خپله ژبـه سموي، مواد ئې لږ وي يا ډير وي، او پـر هـر ډول ئـې را اړوي، لکـه ددوي د ژوندانه احتياج چي وي. يواجتمـاعي پلټـونکی او محقـق پـه دې موضوع کښي داسي وايي :

" هر ملت تـل خپلـه ژبـه اړوي ځکـه چـي ژبـه د ملتـو د معنـوي لوړتياوو سره سمه پر مخ ځي، نو هر څوني چي د يـوه ملـت افکـار او

خيالات لوړ سي، ژبه ئې هم لوړېږي" (۱) دا خو د ژبو د طبيعـي لوړتيـا سير دی، چي پخپله د ملتو د ارتقايي پون تابع دي، مګـر ژونـدی ملـل تل زيار کاږي چي پخپل جهد هم خپله ژبه لوړه او بشپړه کي.

په يوه ژبه کښي چي علمي تحقيق او ادبي کار نـه وي سـوی، او د هغې د نشو ونما کار نوی شروع کيږي، په لومړۍ مرحله کښـي ددغـو کارو ضرورت ئيدل کيږي :

۱. د ژبي کلمات او لغات او اصـطلاحات اوخـاص تعـابير اولغـوي ذخاير راغونډول او مفصل او مرتب قاموسونه ئې په اوسـني علمـي ډول ليکل.

۲. که په ژبه کښي ځيني پردی کلمات مستعمل وي دغه بايد ټـول سره راغونډ سي او ددې خبري تحقيق او پلټنه وسي، چي آيا دغـه کلمات پخپله په ژبه کښي معادل لغات لري که يه؟ اوکه ئې نه لـري نو څه بايد وکو؟

۳. که داسي وي چي د پردو کلماتو او مخصوصو علمي اصـلاحاتو او تخنيکي او فني کلماتو په مقابل کښي په خپله په ژبه کښي کوم مواد موجود نه وي، او نو بايد عين هغه خارجي کلمات واخلو، او که د هغو په مقابل کښي د ژبي خپل لغات رواج او وضع کوو؟

د پښتوژبي د نوی ژوندانه او علمي روزني په اوسنۍ مرحلـه کښـي هم موږ له دغو درو خبرو سره مخامخ کېږو، که موږ خپله ژبه ژونـدۍ کوو، نو دې ته اړ يو چي هرو مرو به په دغو خبرو پسي ګرزو، او زيـار به کاږو چي زموږ علمي او ژبنۍ ټولني او د ژبي اکاډيمی حتمـاً ددغـو پوښتنو ځوابونه ووايي.

نن هغه وخت تېر دی، چي علـم او پوهنـه بـه پـه ځينومخصوصـو خلکو پوري مخصوصه وه، نن موږ غواړو چي د ملت ټوله وګـړی، مـو

پوه او د علم خاوندان او پياوړی وي، نـو چـي علـم مـوږ د ملـت يـو مشترک مال وبولو، ددې دپاره خو تر ټولو دمخه دا لازمه ده چي خپله ژبه بشپړه کو، ولي چي علم خو پخپله ژبه ښه او ژر زده کيږي، او کـه زموږ ژبه دغسي پاته سي، لکه اوس چي ده نو به په وطـن کښـي د علـم خپرول ممکن نه وي. موږ که غواړو چي د پښتو د اوسنۍ زمانې لـه احتياجاتو سره سمه وروزو، نوبه ضرور هغه مراحل طئ کوو چي نـورو اقوامو د خپلو ژبو د لوړتياو په لاره کښي پرتللي دي او هغه دا دي :

## ١) د ژبې لغوي ذخاير راټولول :

ژبه ډير لغوي مواد لري، چي غنا او بډايتوب ئـې هـم پـه هغوسـره وي لغـات او کلمـات او اصـطلاحات او خـاص تعبيرونـه او متلونـه او د عوامي او ادبي ژبي خصوصيات سره راټولول او د هغه د ژبـې مـواد او ذخاير په خاصو قاموسونو کښي راغونډول او اوډل او پر اوسـنی علمـي اساس د هغو ترتيب او تحقيق داسـي کارونـه دي چـي تراوسـه د پښتـو لپاره په مکمل ډول نه دي سوي، د پښتو مهجور اوليري لوېـدلي لغـات تر اوسه زموږ ليکوالو اروېدلي لا هم نه دي.

د پښتو سوچه لغاتو اکثرو غرو او گوښوته هجرت کړي دی، او بايد ضرور علمي ډلي په دغو ځايو کښـي پسـي وگـرزي او د پښتـو د لـوي قاموس د ترتيب اوتکميل لپاره ئې پر اوسني علمـي اساسـونو برابـر تـر علمي ترتيب لاندي سره راغونډ او ضبط کړي.

مثلاً : دکندهار د جنـوبي خـوا ريـگ او گرمسـير خـوا، ارغسـان، کدنی، ښوراوک، د هلمند غاړي، زمينداور سيمي، د هوتکـو غرونـه، ماروپ، د ارغنداو غاړي، مقر او شلگر سيمي، د سـپين غـره شـرقي او

غربي لمني، د سليمان غره شرقي او غربي خواوي، دکرمې درې، دننگرهار غرونه او سيمي دکاکړو ږوب اود هغه شمالي خواوي لکه : مسه خيل، دومړ، بابړ، مروت بيا تر بنو او ټل پوري، د پېښور او مردان او سوات او مهابڼ او پکهلي سيمي او د پختا د ولايت سمي او غرونه دا ټول ځايونه بايد د پښتوْ د لغاتو او لهجو او مصطلحاتو او متلونو او نورو خصائصو لپاره وپلټل سي، او د پښتو گرامري مواد هم بايد د ټولي ژبي دمطالعې په رڼا کښي راټول سي چي ډېر نوي شيان به زمونږ د علمي ټولنو په لاس ورسي.

مثلاً : ما يو وخت د مهابڼ د تاريخي غره په لمنو کښي له يوه جدون پښتون سره خبري کولې هغه ويل : زمونږ ملکان ټول پوليسو نيسلي دي، حال دا چي نور ټول پښتانه د دغه فعل پر ځاى نيولي دي وايي، او له نيسل څخه فقط فعل حال نيسي او مستقبل وبه نيسي اشتقاقوي.

په مروتو کښي تراوسه هم مزدك مسجد ته وايي، او دا هغه کلمه ده چي په پښتو زاړه ادب کښي مستعمله وه، خو اوس فقط د سليمان د غره پرهاخوا په مروتو او مسه خيلو او بابړو کښي مهجوره پاتـه ده.

د لغاتو ذخاير خو مونږ له لوړو ځايو څخه پيدا کولاي سواي، اما په پښتو ادبي ليکلي ذخيره يعني منظومو او منثورو خطي او چاپي کتابو کښي هم ډېر د قدر وړ مواد سته چي هغه هم بايد د خپلو نظايرو سره راغونډ سي.

## ۲. تر وضع دمخه تحقيق

د پښتو د علمي کولو يعني ددې لپاره چي په دغه ژبه کښي علم داخل سي، مونږ ناچاره يو چي په علمي ژباړه او ترجمه پيل وکو، او

ددې کار لپاره ډیرو علمي اصطلاحاتو او فني لغاتو او ډول ډول کلماتو ته ضرورت لرو، چي یا د پردو ژبو څخه واخیستل سي، یا پخپله په ژبه کښي موجود او تطبیق سي. مگر تر دغه کار دمخه باید تحقیق او پلټنه وسي چي آیا د هغه مطلوب خارجي لغت په مقابل کښي پښتو کومه کلمه لري که یه؟ ډېر ځله داسي پېښیږي چي ظاهراً په ښارو یا بعضو لهجو کښي د هغې پردۍ کلمې لپاره پښتو مستعمله کلمه نه وي، مگر په یوه بله لهجه یا گوښه کښي پښتو سوچه لغت موجود وي.

مثلاً : یو وخت چا وغوښتل چي د آخور دکلمې لپاره پښتو مقابله کلمه ومومي، ځکه چي په هغه مجلس کښي ددې کلمې لپاره چا کوم پښتو لغت وړاندي نکړ، او زیات تحقیق هم ونه سو، نو هلته د آخور لپاره "بس نغری" موضوعه کلمه یعني د پروړ د لغزلو ځای کښېښووله سوه، حال دا چي پسله یو څه پوښتني او گروېږني دا ښکاره سوه چي د سلیمان غره د لمنو پښتانه آخور ته پمبی وایي. نو چي اصیله او پخوانۍ کلمه وي باید هغه واخیستله سي، حاجت نوي وضع ته نسته. تر تحقیق او پلټني دمخه د نوو کلماتو په وضع کولو کښي تلوار کول ښه کار نه دی.

## ۳. تولید که وضع ؟

تولید او مولدات د عربی ژبي له لغوي اصطلاحاتو څخه دی، د تولید یو ډول دغه دی، چي دژبي ځني زاړه مواد اوکلمات په نوې معنا مشهور کی، اود ژبو پوهان تر نوی اختراع دغسي تولید غوره گڼي. مثلاً : په ژبه کښي ډیر مواد وي، چي هغه اوس پخپله زړه معنا نه استعمالیږي، او فقط په زړو ادبی پاڼو کښي پاته وي. یا دا

چي د يوه لغت په زړه معنا او نوی استعمال کښي کلکه قرينه موجـوده وي، نودا جائزه ده چي علمي ټولني ځني زاړه مواد په نـوو مفـاهيمو قبول کړي، او داسي کلمات نو "مولد" بللای سو.

په توليد کښي کلماتو تـه څـه معنـوي تغييـر وربښيـږي مګـر زوړ مفهوم له نوی سره د ارتباط وجه او د نښلولو مزي لـري مـثلاً د آريـايي اقوامو په زړو افسانو او مِيتالوجي کښي يو مار ؤ چي تـر خولـه ئـې اور راووت. د ايران فرهنګستان دا نوم واخيست او په ارتباط او قرينه ئې پر TORPEDO کښېښود، دا هغه بحري بم دی، چي د او ګوټو د غرقولو دپاره ئې پر اچوي.

هزينه پخوا په فارسي کښي د خزانې او نفقې او خـرڅ معنـا لرلـه، مثلاً " کمال اسمعيل وايي :

کردم هزينه در ره مدح تو نقد عمر
ور اندکی بماند ازان، هم برای تست

مګر فرهنګستان دا کلمه د مصرف او خرڅ لپـاره د دخـل مقابـل پـه مالي امورو کښي د EXPENSES پرځاي مخصوصه کړه، عربـو پخـوا يوه جنګي آله "دبابه" درلوده، المقـري عربـي مـؤرخ ليکـي : " وعمـل موسی دبابه دب المسلمون تحتها الی برج من ابراجها" (٢) البلاذري هم وايي : "فاتخذالمسلمون الدبابات وقاتلو اقتالاً" (٣) له دغو تاريخي سـندو څخه ښکاري چي دا آله په عربو کښي زړه وه، مګـر اوس عربـي ژبنيـو ټولنو دغه کلمه راواخيسته، او د توليد په ډول ئې پر آهن پوش مـوټر او ټانک TANK اطلاق کړه، دوي وايي چي پـه يـوه قرينـه اوارتبـاط زړو نوم مونده کيږي نوی نومونه ايښوول فصـاحت نـه دی. لکوی مـوټر : سياره، سايکل : دراجـه، ايـروپلان : طيـاره او يونيورسـټي : جامعـه او فاکولته : کليه بولي، او دا ټول زاړه کلمات ئې پـه توليـدي ارتبـاط پـه

نوو مفاهیمو پوري نښلولي دي. په پښتو کښي هم تر وضع دمخه له تولید څخه کار اخیستنه ښه ده، ځکه یو خو د ژبي ځیني زاړه او مهجور لغتونه بیرته په نوی استعمال کښي لویږي، او خلکو ته هم نابلده او ناآشنا نه ښکاري، او بل دا چي هغه قرینه او د نښت مزی ئې اذهان فوراً له زړې معنا څخه نوی مفهوم ته رانقلوي.

ددې ډول تولید مثالونه ډېر دي، او تر اوسه هم ډېر کلمات په دغه راز مولد سویدي، مثلاً : بریښنا پخوا فقط جوی برق ؤ مګر اوس دغه برق ته وایو، چي د تنویر او تسخین او تدویر لپاره کار ځیني اخلو او دا زړه کلمه په نوي مفهوم کښي مولده سوه، خو د زاړه او نوی مفهوم تر منځ د ارتباط قرینه هم سته.

په دغه ډول نوکه اوس موږ د خپلو عصري اړتیاوو د پوره کولو لپاره ځیني زاړه کلمات په نوو مفاهیمو کښي استعمال کړو بده به نه وي، مثلاً : ګوند خو پخوا د قبیلوي جنبې او پرې یوه ټولنه وه، اوس به موږ دغه کلمه را واخلو او د نوی سیاسي حزب او PARTY په مقابل کښي به ئې د سیاست پر میدان په مولد ډول ودروو لکه ډیموکرات ګوند، یا سوشلسټ ګوند، او نور.

دغه ډول تولید یوقرن دمخه لا په افغانستان کښي شروع سوی ؤ کله چي د امیر شیر علیخان په عصر کښي عسکري اصطلاحات ترجمه کېده نو پښتنو کوچیانو د پسونو د شمېر اصطلاحات ئې په نوی عسکري ډول مؤلد کړل، بړک، کنډک، غونډ ګرده مولدات دي چي تراوسه لاهم په عسکري تشکیلاتو کښي زموږ په درد خوري.

نو ترهغه وخته چي داسي مولدات پخپله په قدیمه ژبه کښي لاسته راځي ښایي په اوسنیو اړتیاوو کښي استعمال کړو، او سمدلاسه په وضع لاس پوري نه کړو.

## ۴ د لغاتو هجرت او اهليت

انسانان او متمدن ملتونه تل يو له بله مدني او اجتماعي روابط سره لري، دوي په تګ راتګ او سوداګري او مدني راکړه ورکړه تل سره مشغول وي او کله اقتصادي عوامل يوه ډله انسانان مجبور کوي چې نورو سيمو ته هجرت وکړي اوپه تاريخ کښي دا خبره ډير نظاير لري، چي د يوه ليري ملت افراد په جنګي تـاړاک کښي بلـي خـورا ليـري مځکي ته تللي او هلته پاته او ميشته سويدي، مثلاً : ډير يوناني لښکريان د سکندر سره افغانستان ته راغلل، او دلې پاته سول، په پيړيو پيړيو پر باختر ددوی سلطنت وُ.

ددغو مهاجرو انسانانو سره ددوي ژبه او ثقافت او ټول اجتماعي دودونه او روحي خصايص هم نوی سيمي ته ورنقليږي اولکه يوانسان چي د نوی محيط سره تطابق ADAPTATION کوی او پسله څو مدتي تراهليت وروسته د خپل نوی چاپير سره داسي سميږي چي حقوقاً هم د هغه ځای د تابعيت حق مومي، او بالکل د نوی محيط شکل او معنا او خوند او رنګ پيدا کوی.

لغات اوکلمات هم دغسي دي، چي په يوه نوی محيط کښي څو عمر پاته اومستعمل سي نو داسي د تابعيت حق مومي چي بيا نو پردی نه شمېرل کيږي.

په پښتو کښي دغسي مهاجر او دخيل لغات په دوه ډوله مستعمل دي لومړی دا چي مفغن سوي وي دوهم دا چي کټ مټ يولغت په هغه خپله معنا راغلی وي.

مفغنات هم پر دريې ډوله دي :

**اول : لفظي مفغن :**

چي د يوه لفظي لغت ظاهري شكل اوښتي وي، مگر په معنا کښي تغيير نه وي پيښ سوي لكه كميس چي لـه عربـي قمـيص څخـه شـكلاً مفغن سويدی خو معنا ئي هغه ده. دغسي لفظي مفغنات خـورا ډېـر دي لكه اودس ( آبدست) ماښام ( نمازشـام) مـازديگر ( نمـازديگر) ماخسـتن ( نماز خفتن) سهار ( سحر) پښېمان ( پشـيمان) اوښكـی (اشـک) ښـادي ( شادي) ميراث ( ميرات) متل ( مثل) هوتاک ( اطاق).

**دوهم : معنوي مفغن :**

هغه دی چي يوه كلمه له بلي ژبي پښتو ته پخپل اصلي شكل يا ډېـر لـږ تغييـر راغلـې وي، خـو معنـا ئـې اوښـتې وي، مگـر د لومړنـۍ او وروستنۍ معنا تر منځ يو ربط اوتناسب موجود وي.

مثلاً : د بشر كلمه په عربي كښي پر هر نر اوښځـی واحـد يـا جمـع باندي اطلاقېده (۴) يا د انسان د پوست پر ظاهري خوا (۵) مگر كله چي دا كلمه پښتو ته راغله ظاهري شكل ئې تغيير نه كی پيدا اما معنا ئـې لـږ څه واوښته چي د يوه انسان ټول بدن ته بشر وايي، او مصـغر شـكل ئـې بشركی دی، كله چي په ښرا كښـي وايـي : بشـر دي ومـره ! دلتـه ئـې مطلب د يوه انسان ټوله هيكل دی.

**دريم :**

داسي كلمات هم ډېر سته چي د تفغين پر وخـت ئـې هـم ظـاهري شكل اوړي او هم ئې معنا تغيير مومي نو دا كلمـات پـوره د تفغـين تـر اصولو لاندي خپل ظاهر او معنی بايلي مـثلاً : د عربـی ژبـی عاصـی د عصيان له ماده څخه اصلاً د ظاغی او گنهكار په معناؤ مگر پښتنـو چـي

په دغه کلمه کښي ظاهري تصرف وکړ (اسی) سو، او معنا ئې هم وگرزېده د بخيل او پژمرده او منحوس پر ځای ودرېده چي اسيگی ئې مصغر دی او هر پست او دنی او بخيل سړی ته وايي، د پښتو د استعمال مثالونه ئي دادي : پلانی خورا اسی دی، يعني بخيل دی. پلانی اسی مخ نيولی دی، يعني منحوس او عبوس. اسيتوب بخل.

عورت په عربی کښي هغه اعضاء وُ، چي ستر ئې لازم وُ، او ستر عورت فقهی تعبير دی (المنجد) دا کلمه اول په مفغن شکل اورته جمع اورتي سوه، چي معنا ئې منکوحه ښځه ده، ماندينه يا ماينه ئې مرادف کلمات دي. وروسته دا مفغن شکل مقلوب او اورته سوه، څو په آخر کښي ارتينه ځني جوړه سوه.

د عربي نعره اول ناره سوه، پير محمد وايي : "ژړا ژړا کړم په ناري ناري" خو د معنا له رويه په دې کلمه کښي داسي تخصيص وسو : نجلۍ ناره وکړه، يعني د پلار او مور بې اجازې ئې مېړه انتخاب کړ، دغسي هم ناره په پښتو افسانو کښي خاصي منظومي توتې دي، لکه د آدم خان نارې، يا د ښادي او بيبو نارې.

د دری او هندي ژبو څخه هم پښتو ډېر دغسي مفغنات لري لکه : دری جگر اول په پښتو کښي ځيگر سو په دری کښي خو دا کلمه د عربي کبد مقابله وه، مگر پښتانه ځيگر د بدن هغه ځاي ته وايي چي اوږه له سينې سره نښلوي، مثلا : ځيگر ئې ختلی دی، هغه وخت ويل کيږئ چي د بدن په هغه برخه کښي دننه درد پيښ سي، بل مثال ئې کالا دی، چي په دری ژبه د عربي متاع مقابل وُ، سنايي وايي : "چو دزدی باچراغ آيد گزيده تر برد کالا" په پښتو کښي مفرد کالی د لام په زور، او جمع ئې کالي د لام په زېر سوه، خو معنا ئې هم په لباس او د اغوستلو په شيانو کښي مخصوصه سوه.　بېله مفغناتو په پښتو کښي ډېر

دخيل كلمات له دري او هندي او تور كى او عربى او اروپايي ژبو څخه ستہ لکه : ابا (عربی) ډېوه (هندی) سیب ( دری) چې پښتو خاص ، کلمات هم لري : پلار ، څراغ ، منه.

زما په فکر د پښتو دغه دخيلات چې اوس ئې پسله ډېره سکونته د تابعيت پوره حق موندلی دی ، ددغې ژبې د ادبي بډايی ډپاره غنيمت دي او طرد يې مناسب او مفيد نه ښکاري ، پرېږدئ چې سايه او سيوري ، او منه او سېب دواړه مستعمل وي.

له عربی او دری او هندی څخه ډېرو کلماتو پښتو ته حجرت کړيدی مگر طبيعت هر کله د "طبيعي انتخاب" پر اساس خپل کار کوي ، او په مهاجرو کلماتو کښې غوره کول کوي ، او هغه کلمات پرېږدي چې پخپل نوي محيط کښې د ژوندانه او بقا او مقاومت پوره حق ثابت کړي وی.

کله چې د اسلام دين يو زر دولس سوه کاله دمخه افغانستان ته راغی ددې نوي دين سره د عربی کلماتو يو غونډ کاروان هم را روان وُ ، ډېر ديني او فقهئ لغات ورسره راغلل ، مگر ددغو دخيلو کلماتو څخه هغه په پښتو ننوتل ، چې د بقا اونوي تابعيت پوره صلاحيت ئې درلود. مثلاً : د اسلام پنځه رکنه ، توحيد ، صلات ، زکات ، صوم ، حج په يوه ديني حرکت کښې د يوه قرآن په واسطه موږ ته راغلل ، مگر د صلات په مقابل لمونځ له قديم لمانځل څخه او د صوم په مقابل کښې روژه پخوا دلته موجود وو ، نو د صلات او صوم کلمات د پښتو په عامه محاوره کښې نه سوه مستعمل او لمونځ او روژه ئې مخې ته مقاومت وکړ ، او عربي مهاجران ئې وايستل مگر د زکات او حج او کلمه توحيد لپاره په دغه ژبه کښې ور او مستعمل لغات نه وو ، نوځکه زکات او حج او کلمه درې سره پښتو ته کټ مټ د خيل سولِ ، او پسله لړه وخته ئې

د نوي تابعيت حق په پښتو کښــي وموند. نــو د دخيلــو او مهــاجرو کلماتو د تابعيت لپاره ځني کُلي قواعد په دې توګه ټاکلاي سو :

الف : له دغو کلماتوځخه هغه کلمې د تابعيــت حــق ژر مونــدلاي سي چي په مقابل کښي پخپله ژبه يوه موزونه او وړ کلمه نه لري، مثلاً : د قرآن عربي کلمې په مقابل کښي زړې درى ژبي نپــي کلمــه د نــو پــه ښبن اود پې په زېر درلوده چي ريښه ئې په پهلوي NIPEK وه يعني نامه او نوشته. دغه کلمه ځيني خواصو د قرآن او وحی په مقابل کښــي لــړ لږ استعمال کړه، مگر په آخر کښې شکست وخوړ او د قرآن عربی کلمه داسي پر غالبه سوه چي اوس ئې عامه خلك استعمالوي او تــر نپــي ئــې ښه پېژني.

ددغه کار نور مثالونه په اوسنی ژبه کښي ډېر موجود دي، په نونسم قرن کښي چي پرتگيان راغلل، نو له دوي سره يــوه نوعــه ســلاح گــن GUN وه، اودا وسله ډېره رواج سوه مگر د هغې لپــاره مــوږ پخــوا يــو نوم توپک درلود، نو توپک د دخيل گن په مقابل پــه ټينگــه ودرېــد، او گن ته ئې هيڅ د تابعيت حق ور نه کی حال دا چــي پــه مرکــب ډول بيا په ماشين گن کښي مستعمل سو.

- د سکول او کالج او يونيورستی په مقابل کښي دلته عربی مکتــب او پښتو پوهنتون ودرېدل، او داسي رواج ئې وموند چــي اوس ئــې هــر څوک ښه پېژني، او انگريزي کلماتو ته ئې مهاجرت او دخيل توب حق نه دی ور کړی.

ب : د دخيلو کلماتو څخه د توليد په ډول کار اخيستل چي په تيــرو کرښو کښي پر هغو باندي خبره وسوه.

ج : کله کله دخيل او مهاجر کلمــات پــه داســي قــوت پــه بلــه ژبــه ورننوزي چي د هغې ژبي اصلي او پخوانو لغاتو ته شکست ورکــوي، او

هغه اصیل لغات غرو او رغوته شړي. مثلاً : د پښتو نمړی مهجور سو، او پر ځاي ئې دخیل او مغفن کالي ودرېد، چي اوس ئې د اصل ځاي نیولی دی، د پښتو عربی (سګک) پمبی (آخور) شړل سوي کلمات دي اوپرځاي یي سګک او آخور ولاړ دي.

دلته باید داخبره زیاته کو چي دغسي کلمات که پوره اهلي او مروج سوي وي نو یې په استعمال کښي بدي نسته، او د ژبي جزو ګرځېدلي دي، مثلاً : که د مهجور کور پرځاي انګور، او د منه پر ځاي سېب، او دخت پر ځای کمیس ووایو جواز لري. مګر که دغه مهجور او مظلوم کلمات هم بیرته ورو ورو مستعمل او وپېژاندل سي بده به نه وي.

## بې سببه مظلوم کلمات

ځني ډېر اصیل او ښاغلي پخواني مواد هم په ژبه کښي وو، او تر پرونه مستعمل وه، خو بې سببه وایستل سول او پرځای ئې عربی یا د اروپایي ژبو کلمات ودرېدل.

دا اصیل او قدیم پښتو کلمات بې سببه وشړل سول او مظلوم واقع سول او دلته ئې زه یو دوه مثالونه راوړم :

زر کاله دمخه د غزنویانو په عصر کښي د ښار د امینت او ساتني لپاره یو سړی د کوتوال په نامه موجود وُ چي دده اداره ئې کوتوالي بلله. دا مرکبه کلمه بالکل داخلي او محلي او اصیله زړه کلمه وه، کوټ پښتو او دری ژبو کښي ریښه لري، کوت، کوته، کوټه، کول، کوت کردن تول د یوې ریښې څخه راوتلي افغاني کلمات دي. کوټ د پخوا څخه د کلا او ښار او حصار معنا درلوده، وال هم د پښتو او دری

نسبت او ملکيت او حفاظت ادات دي، لـه دغـو دواړو څخـه کوتـوال جوړ سوی وُ، چي معنا ئې د کـوټ سـاتونکی او د ښـار محـافظ او پـه اوسني تعبير د پوليسو مشر وُ.

دا زړه اصيله اوتاريخي او ملي کلمه نه پوهېږم ولـي وايسـتله سـوه؟ اوپر ځای ئې په ايران کښي اول نظميه او بيا شهرباني نـوی او محـدث اصطلاحات راغلل اوپه افغانستان کښي ( امنيه) پر ځای ودرېده.

ديرش کاله پخـوا لا کوتـوالي پـه افغانسـتان کښـي موجـوده وه او دکابل او کندهار د کوتوالی گنبدي لا تراوسه زموږ نه دي هيري.

زه نه پوهيږم چي نظميه، امنيه، شهرباني د کوتوال تر کلمې څـه مزيت لري ښله دې چي هغه پردی او محدث دي، او دا زاړه او اصـيله اوخپله کلمه ده او د افغانستان په دواړو ژبـو کښـي اصـالت او ريښـې او پخوانی ټينگ نسب لري.

دوهم مثال ئې د خان کلمه ده دا هم قديمـه افغـاني کلمـه ده او د هرچا له نامه سره د احترام په ډول لکه د انگريزي مسـتر اود فرانسـوی موسيو او د هندی شری، او د دری خواجه يا آقا په توگـه اسـتعمالېده، هم سهله هم مروجه هم شيرينه هم تـاريخي کلمـه وه او لکـه جرگـه ـ اولس غوندي تر يو زر کاله ډېر دمخه زموږ په ژبو کښي راغلـې او پـوره اهلي او داخلي او ملي سوي وه.

زما په خيال دغه قديمه کلمه د احترام لپاره د ښاغلي پر ځاي کافي وه، او نه بايد چي بـې سـببه صـرد سـوې واي، ځکـه چـي دا کلمـه د تاريخي نومونو جزو ده، او که ئې حذف کړو هغـه نومونـه سپکيږي، مثلاً : ميرويس خان ـ وزير اکبرخان ـ ايوب خان ـ اميردوست محمـد خان ـ وزير فتح خان چي پر ځاي ئې ښاغلی ميرويس ـ ښاغلی وزيـر اکبر ـ ښاغلی فتح خان نه سو ويلاي.

په دې ډول ډېر نور داخلي او قديم او اصيل کلمات سته چې بې سببه موږ هغه وشړل او په تاريخ کښي مو ډېر خلط او تلبيس راوست.
مثلاً : تاريخي اسفزار مو شين ډنډ کښي او په دې ډول مو اسفزار مشعشع تاريخ هېر کړ.

راسئ چي د تاريخ او ژبي نواميس وساتو او بې سببه د ژبي قديم او اصيل مواد له لاسه ونه باسو. څه لازمه ده چي حتماً د پښت او نژاد او نسل په مقابل چي زموږ خپل مانوس لغات دي، جنرليشن د اروپا په تقليد دروو؟ يا پېړۍ او ساده قرن نه ليکو بلکي پر ځای ئې انګرېزي سنچری راولو؟

دغه لغات او کلمات او نورمونه که دري وي که پښتو او که په دغو ژبو کښي دخيل ګرده زموږ د پلرو پاته مړي او ميراتونه دي او پر موږ د ساتني حق لري. مګر که موږ اوس يا په آينده کښي د خپلو علمي او مدني او عصري اړتياوو لپاره ځيني کلمات ونه لرو، دلته نو مجبور يو چي يا د نورو ژبو کلمات واخلو يا ئې پخپله ژبه کښي وضع کو، چي دغه نو د ژبي د تکميل يوه بله مرحله ده، او زه به ئې په يوه بله مقاله کښي په تفصيل راوړم اوس دغه څېړنه لنډوم.(۶)

# لمن لیکونه


۱. د ګوستلولوبون د لومړی نیوئیدنو کتاب د ژبو د ودې څېړنه.

۲. نفح الطیب ۱ ، ۱۲۶.

۳. فتوح البلدان ۱۸۴.

۴. د یسوعی المنجد.

۵. د فیروز آبادي قاموس.

۶. وږمه مجله، ۱۳۴۳ کال، ۵مه او ۶ مه ګڼه، ۱ _ ۱۳ مخونه.